سلطان جان کليوا ل

۲۰۲۱/۰۹/۲۰

# د شیطان حالات

اورونه لګوي ډیر، په غصه ښکاری شیطان
هدف چي په لاس ور نه شی، خپه ښکاری شیطان

پلان یی ؤ جوړ کړی، چی تباه کړی ټول ښارونه
ښارونه تباه نه شول، آزرده ښکاری شیطان

حیران شو چی روغ څنګه، ورنه لاړ زوی د آدم
همزلو ته نری کی، شرمنده ښکاری شیطان

غاښونه یی تیره کړیدي، خوړلو ته د غوښو
ظاهر کی مهربانه پریښته ښکاری شیطان

لګیا دی بندیزونه، لګوی په بنیادمو
خوکورکی په خپل غم باندی، اخته ښکاری شیطان

دنیا هوښیاره شوی، وارخطا دي شیطانان
د نن انسان بچو ته، ډیر لوده ښکاری شیطان

نړی لکه یو کلی، کلیوال دي سره ورونه
په ویره کی اخته، په اندیښنه، ښکاری شیطان

سپتمبر/۱۷/۲۰۲۱

تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید: info@arianafghanistan.com